بسم الله الرحمن الرحيم

**[إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَئِكَ فِي ٱلْأَذَلِّينَ]**

***ژباړه: «په حقیقت سره هغه خلک ډېر ذلیل دي چې د الله سبحانه و تعالی او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر وړاندې مقابله کوي. [مجادله: ۲۰]***

ورځ تر بلې، د فلسطین خلک پر هغو برياوو ډاډمنېږي چې جنرال ډېټن يې تر لاسه کوي؛ چې له يهودي ادارې او نړۍ سره يې د نوي فلسطين ژمنه کړې ده. همدا فلسطين دى چې ډېټون يې د اسلام او د فلسطين د خلکو دښمن کړی دی. يو فلسطينی چې د خپلو خلکو پر وړاندې له دښمن سره همغږي کوي، د الله سبحانه و تعالی پر مقدساتو، کورونو او عبادت کوونکو بريدونه کوي، د مينې او سولې په چاپيريال کې له هغو کسانو سره ژوند کوي، چې ځمکې يې غصب کړې او له مقدساتو څخه سرغړونه کوي، وينې تويوي او په بدل کې يې هغه کسان نيسي، اعتصاب پرې کوي او فشار پرې راوړي چې د خيانت په څرګندولو سره خپل غږ پورته کوي. يا د دين د رامنځته کېدلو غوښتنه کوي، نو يهودانو او د اسلام دښمنانو ته مبارکي وايو، چې تاسو لري.

**اې د فلسطين د سپېڅلي خاورې خلکو:** د جمعې په ورځ د فلسطيني ادارې له لورې بل داسې بريد تر سره شو چې د حضرت موسی علیه السلام له زيارت وروسته پر عبادت کوونکو تر سره شوی و، دوی يې له جوماتونو وشړل او په ظالمانه توګه يې په لرګيو، مرميو او ګاز سره تيت او پرک کړل. همدارنګه د هغوی وينې يې تويې کړې، له مقدساتو څخه يې سرغړونه وکړه او اشرافان يې د دې لپار ونيول چې خلک د جمعې له لمانځه څخه منع کړي. د دغو جنايتونو له ډلې څخه يو يې پر ډاکټر بسم الداور باندې په قلقيليا کې بريد و، چې ٦٦ کالونه عمر يې درلود. د هغه پوښتې ماتې شوې او پرته له دې چې د هغه عمر، موقف يا پوهه په نظر کې ونيسي، تر مرګ پورې يې ورساوه. په ټامون کې يې ډاکټر فدا بني اودح ونيو او ويې وهلو، پر لسګونو نورو عبادت کوونکو يې بريد وکړ او ويې وهل. پر دوی يې ځکه بريد وکړ چې خپل لمونځونه يې کول. دلته موږ د فلسطين ادارې مشر، د هغه لومړي وزير او د دوی امنيت يا جرمي تجهيز څخه پوښتنه کوو: ايا تاسو د زيتونو ونې د مېشتو کسانو له بريدونو څخه لېرې کړي دي، لکه څنګه چې تاسو خلک له لمانځه څخه ليرې کوئ؟! ايا تاسو پر مهاجرينو خپل غږ داسې پورته کړی، لکه څنګه يې چې تاسو په رکوع او سجده کې پر عبادت کوونکو پورته کوئ؟!

بيا په ابو مشعل ښار، رام الله ولسوالۍ کې د استخباراتي اداري له لوري نامتو ښوونکی حسن المصري ونيول شو، هغه يې وواهه، ويې ځوراوه او د ساتلو ځای يې پټ کړ، الله سبحانه و تعالی دې د دوی لاسونه مات کړي.

په دې اړه پلاوي واليانو ته ورغلل، تر څو د امنيتي خدمتونو له ترسره کولو څخه دوی ته شکايت وکړي او د هغو خلکو د محاسبې غوښتنه وکړي چې د ۲۰۲۱م کال، د جنوري پر ۱۰مه يې پر خلکو يرغل وکړ. موږ د رام الله والي ته يو ليک وسپاره؛ چې د مشهور ښوونکي حسن المصري پر وړاندې د رمله استخباراتو مشر، محمود ابراهيم حماد څخه وضاحت وغواړي او د تر سره شوي جنايت په اړه خپل دريځ بيان کړي. دوی ته مو ۴۸ ساعتونه وخت ورکړ او دوی هېڅ کار ونه کړ.

**اې زموږ خلکو چې اسلام عزت درکړی:** دا هغه اداره ده چې ستاسو هېواد ته يې پښې راغلې، له ذلت پرته يې بل هېڅ نه لرل، تاسو هغوی ته پناه او خواړه ورکړل، نو اوس دوی ستاسو وينه څښي، ستاسو پيسې ګرځوي او پر جوماتونو بريدونه کوي. اراده لري چې ستاسو کورنۍ او عفت له منځه يوسي. دوی پر تاسو ظلم کوي، ځکه چې دوی ستاسو د دښمن په لاس کې دي.

هغه څوک چې په رکوع او سجده کې پر عبادت کوونکو بريد کوي او د يهودانو د تېري ښکار کېږي، يو مجرم دی چې په سپېڅلې خاوره پورې تړاو نه لري. پر فلسطيني عبادت کوونکو او جوماتونو د چارواکو يرغل، د فلسطين پر خلکو يرغل دی. د فلسطين خلک بايد دا جنايتکاران د قومونو له لارې وشاري او په قانوني ډول تر هغه چې ټول مجرمين په جزا ورسېږي. که د فلسطين اداره هغه جنايتکاران محاسبه نه کړي، چې وينې تويوي او د خلکو مقدساتو ته سپکاوی کوي، نو دا به پر خلکو فشار راوړي چې د خپلو حقونو په وسيله د فلسطين د خلکو لپاره د دوی حقوق خوندي کړي. الله سبحانه و تعالی دوی غوره کړي دي، څو په دې سپېڅلې خاوره کې حق ته غاړه کېږدي. د فلسطيني ادارې لپاره به غوره وي چې د فلسطين د خلکو او اسلام پر وړاندې مبارزه ودروي. الله سبحانه و تعالی د دې امت په لاس هغه ظالمان له منځه وړي، چې فکر يې کاوه دوی به هېڅکله را ونه پرځېږي. د فلسطين اداره د دوی د ځواک په لسمه برخه حساب نه کوي. دا امت د بې عدالتۍ پر وړاندې چوپه خوله نه پاتې کېږي. همدارنګه دوی ظلم کوي او پر دين يې بريد کوي. که د فلسطين په اداره کې يو هوښيار سړی وي، پرېږدئ چې لاړ شي، مخکې له دې چې په پښو وغړول شي. د اسلام سهار د خلافت په تاسيس سره رڼا کېږي او بيا به پوه شئ چې څوک ګټونکي دي. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**[وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْدَاداً يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبّاً لِلَّهِ وَلَوْ يَرَى الَّذِينَ ظَلَمُوا إِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ أَنَّ الْقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعاً وَأَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعَذَابِ]**

**ژباړه:** *«(خو د الله سبحانه و تعالی پر يووالي د دې ښکاره څرګندو دلالت کوونکو نښو نښانو له ليدلو سره هم) ځينې خلک داسې دي چې له الله سبحانه و تعالی پرته نور د هغه سيالان ګرځوي؛ پر هغو داسې مين دي لکه څنګه چې الله سبحانه و تعالی سره مينه لرل ښايي. په داسې حال کې چې دغو ظالمانو ته د عذاب د ليدو په*

*وخت کې پیدا کېدونکی دی. که همدا نن دوی لیدلی وای؛ نو (باور به یې راغلی وی چې) ټول قوت او ټولې واکمنی یوازې د الله سبحانه و تعالی دي او (په دې به یې هم باور شوی وی) چې له الله سبحانه و تعالی سره ډېر سخت عذاب شته.»* [بقرة: ١٦٥]

**حزب التحریر- د فلسطین سپېڅلې خاوره**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، د جمادی الاول ۲۹مه**

**۲۰۲۱م کال، د جنوري ۱۳مه**